د ملګرو ملتونو د مرستی پلاوی په افغانستان کی

د ویاند دفتر
کابل – افغانستان

تیلیفون: ۰۰۹۳ ۲۰ ۲۹۷ ۶۱۲۱ – ۶۱۲۱ ۲۴ ۰۸۳۱ ۰۰۳۹
بریښنالیک: spokesperson-unama@un.org
ویب پاڼه: www.unama-afg.org

## مطبوعاتی کنفرانس (کابو ټکی په ټکی)

**ښاغلی ریک کورسینو، د خوراک د نړیوال سازمان مشر په افغانستان کی**
**علیم صدیق د یوناما د ویاند د دفتر څخه او**
**نظیف الله سالارزی د یوناما د ویاند د دفتر څخه**

*کابل، د فبروری د میاشتی ۱۹ نیټه کال ۲۰۰۸*

**علیم صدیق، یوناما:** سهار مو نیکمرغه، تاسو ټولو ته سلام. زما نوم علیم صدیق دی چې د یوناما د ویاند په دفتر کې کار کوم. زموږ دې مطبوعاتي کنفرانس ته ښه راغلاست. نن سهار زموږ سره د خواړو د نړیوال پروګرام څخه ریک کارسینو چې دلته میلمه ویاندوي دی یو ځای شوي دی، ریک موږ ته د بشري مرستو د حالت په اړه معلومات راکوي، همدارنګه د افغانستان د حکومت او د ملګرو ملتونو د موسسو د هغې غوښتنې په اړه چې په ټول هیواد کې د اوړو د بیو د راټیټولو لپاره وشوه به خبرې کوي. او په پای کې به موږ د راتلونکو احتمالي سیلابونو او نیزونو په اړه هم یو څو ټکي ولرو.

## په کندهار کې د ځان مرګی برید په اړه د ملګرو ملتونو د سرمنشي وینا

د پیل وړاندې زه ستاسې پاملرنه هغې وینا ته راګرځوم چې د ملګرو ملتونو د سرمنشي له خوا د یکشنبې پر ورځ په کندهار کې د ځان وژونکی برید په اړوند چې د وژنې غټه تراژیدي یې رامنځته کړله. د دغې وینا کاپی ګانې د سالون د اړخ پر میز دي، او دا د پرونۍ بمي برید سره چې په کندهار کې وشو او د هغې په پایله کې ۳۵ ملکي وګړي مړه او ۴ تنه کانادايي سرتيري ټپیان شول. ملګري ملتونه دغه ډول اعمال چې په کې بې ګناه کسان د مرګ کومې ته ځي په کلکه غندي، دغه حملې څرګندوي چې هغه کسان چې د بې ګناه وګړو ژوند په بې رحمۍ سره اخلي د هغو کسانو سره پرتله شي چې د افغانستان د حکومت او خلکو سره کار کوي څو چې سوکاله راتلونکې جوړه کړي. د دغو دواړو تر منځ توپیر کول ګرانه نه ده، هیڅ ډول شکایت او یا هم سیاسي موخه نه شي کولای د دغو حملو لپاره د استدلال بنسټ وګرځي او سپیناوي یې وکړي، ملګري ملتونه د بې ګناه ملکي وګړو پر خلاف دغه حملې په کلکه غندي.

## د یو ان ایچ سی آر مرستې

وړاندې تر دې چې زه ریک ته بلنه ورکړم، غواړم د یو ان ایچ سي آر له خوا چې د ملګرو ملتونو د کډوالو موسسه ده یو څو خبرتیاوې واوروم او د هغو هلو ځلو په اړه وغږیږم چې دوي یې سرته رسوي څو د هغو وګړو سره مرسته وکړي چې بشري مرستو ته اړ دي.

د ملګرو ملتونو د کډوالو موسسه د ۲۰۰،۰۰۰ څخه زیاتو بیرته راستنو شویو او په داخل کې بېځایه شویو او نورو زیانمنونکو کورنیو ته رسوي، او دا د هغه سخت ژمي د ستونزو په اړه غبرګون دي چې هیواد ورسره مخ دی او په تیرو څو اونیو کې په سلګونو کسان وژلي دي.

یو ان ایچ سي آر په پام کې لري چې په ټولیزه توګه د ۳۷۴۶۰ کورنیو سره چې ۲۰۰۰۰۰ وګړي په کې شامل دي د ضروري توکو لکه خیمو، کمپلو، پلاستیکي ترپالونو، د بیده کیدو د توشکو، چراغونو، د غوړیو د قوطیو او نورو ضروري توکو مرسته وکړي.

دلته د یو ان ایچ سي آر موخه دا ده چې د ډیرو زیانمونکو کورنیو سره مرسته وکړي چې د خپل کور پریښودو ته اړ شوي دي، څو د دوي د ډیروالی مخنیوی وشي چې لا تر مخه یې شمیره ۱۲۰۰۰۰ کسانو ته رسیدلې ده او د هیواد په بیلا بیلو برخو کې د جګړې او وچکالی له امله بېځایه شوي دي.

د ۸۵۰۰۰ څخه زیاتو افغانانو سره د یو ان ایچ سي آر له خوا د هیواد په بیلا بیلو سیمو کې مرسته شوې ده او د یو ان ایچ سي آر دغه هلې ځلې او کوښښونه به په راتلونکو اونیو کې لا هم جارې وي. ډیره مننه، نور مو وخت نه نیسم، زه اوس خپل میلمه ریک کارسینو د خوارو د نړیوال پروګرام څخه در پیژنم چې د یو څو خبرو وروسته به ستاسي پوښتني ځواب کړو.

**ریک کورسینو، د خوارو نړیوال پروګرام:**

سهار مو نیکمرغه، زه یوه میاشت وړاندې دلته وم چې د نړیوال خوراکي پروګرام د استازي سره مې یو ځای تاسو ته د حکومت او د ملګرو ملتونو د پلانونو په اړه چې په دې هیواد کې د اړینو خوراکي توکو د لوړې بیې د اغیزو سره د مجادلې په برخه کې وو معلومات درکړل. نن ورځ هغه څه چې زه یې غواړم تاسو ته وړاندې کړم هغه تازه معلومات دي چې د هغه وخت راهیسې موږ څه کړي دي، د دې سر بیره دا تاسو ته جوته کړم چې د ژمي له پیل څخه موږ د افغانستان د حکومت او د ملګرو ملتونو د موسسو سره څه کړي دي څو چې د ژمي د سړو څخه راولاړې ستونزې د هیواد په ځینو ځانګړو برخو کې کمې کړای شي.

په هیواد کې د تیر کال یعنی د ۲۰۰۶ کال د وروستیو میاشتو څخه بیا تر اوسه پورې د خوراکي موادو نرخونه په لوړیدو وه، دلته موږ یوازې د غنمو او د اوړو په هکله معلومات ورکړ، په ځانګړې توګه د اوړو نرخونه د هیواد په کچه لوړ شوي، ځیني ځایونه دا نرخونه ۶۰ سلینه او بیا ځیني نور ځایونه دا نرخونه ۸۰ سلینه لوړ بښي، د افغانستان حکومت او ملګرو ملتونو ډیره اندیښنه ښودلې چې دا نرخونه به دوګړو په ځینو برخو څه تاثیرات وغورځوي.

موږ پدې تینګار کړی چې دا له پیل څخه یوه تصدي ده، د افغانستان د حکومت لخوا یی مشرتوب کیږی. زموږ د اختیاراتو په د ننه کې د ملګرو ملتونو په ګډون ارزونه ترسره شوې چې تر دوه نیم میلیونو زیات وګړي د غذایي نه مصونیت او د خطر د لوړې کچې د غذایي نه مصونیت او د نرخونو د لوړوالی څخه اغیزمن شوي دي.

د دې پخاطر چې د دې وضعې سره مقابله وشي، نږدې درې نیمې اونی وړاندې د ولسمشر مرستیال خلیلی، د کرنې د وزیر ښاغلی رامین او د عمومي منشي د سرپرست د ځانګړی استازی ښاغلی اسپلند لخوا څخه نړیوالې ټولنې ته د نرخونو د لوړوالی په اړه د خوراکي او غیر خوراکي توکو سره د معاملې کولو په موخه یوه غوښتنه وړاندې شوه.

پدې غوښتنه کې ۹۰،۰۰۰ ټنه خوراکي توکي د نړیوال خوراکي پروګرام او مایکرو تغذوي تدارکات او ځیني نور کوچني سامان آلات د یونیسف او نړیوال روغتیایي پروګرام له طریقه شامل وه.

ما دلته وویل تر هغه ځایه چې نړیوال خوراکي پروګرام مطرح دی، دا ۹۰،۰۰۰ ټنه خوراکي توکي چې دلته یې یادونه وشوه، زموږ د ۲۰۰۸ کال د پروګرام علاوه کمک دی چې د ۱۸۰،۰۰۰ ټنو د ویشلو غوښتنه کوي. زما نمایندګي پلان لري چې د هیواد په کچه ټول ټال ۲۷۰،۰۰۰ ټنه توکي وویشي.

زه نن ډېر خوښ یم چې زموږ تمویل کوونکو زموږ غوښتنو ته په ډېرو خلاصو لاسونو ځواب ووایه. د خوراکي توکو ویش د نړیوال خوراکي پروګرام له طریقه او دا د خوراکي توکو یو ترکیب دی چې باید زموږ د غوښتني او همدارنګه زموږ د منظم پروګرام له طریقه وویشل شي، د متحده ایالاتو حکومت، کانادا، ډنمارک او د ملګرو ملتونو د OCHA دفتر د مرکزي چټک غبرګون وجهي صندوق تر اوسه پورې، د تیرو دریو اونیو په ترڅ کې نږدې ۳۸ میلیونه ډالره مرسته کړې چې لدې لارې به موږ ۵۰،۰۰۰ ټنه خوراکي توکي د هیواد په کچه وویشو. د دغو تصدیق شویو مرستو سربیره یو شمیر هیوادونه به نورې مرستې هم ترسره کړي. پدې هیوادونو کې استرالیا، جرمني، هالند، انګلستان، جاپان او سویس شامل دي.

لکه څرنګه چې ما تیر وار هم یادونه کړې، د دې مداخلت مهال ویش ډیر حیاتي فاکتور دی. موږ اړ یو ترڅو دا مرستې د روان کال د حاصلاتو د فصل تر لومړیو ۶ میاشتو پورې هیواد ته را انتقال او ګټه اخیستونکو ته یې وویشو. دا به هغه وخت وي چې دې ډول غذایي توکو ته به زیات ضرورت لیدل کیږي، او دا به هغه وخت هم وي چې د کرنیز سکتور لخوا څخه به د دې خوراکي توکو ویش اغیزمن شي.

په پای کې به زه د دې مسلې په هکله ووایم د هغو تدبیرونو له امله چې موږ د تمویل کوونکو سره منلي او د ځینو خوراکي توکو د بیا تخصیص په اړه چې له وړاندې په نورو سیمو کې د ویشلو په موخه پلان شوي، د دې مرستو ځیني برخې هیواد ته لا د مخه رسیدلې او موږ تمه کوو چې د یوې اونۍ، یا لسوورځو په ترڅ کې به دغه مرستې ګټه اخیستونکو ته وویشلې شي.

د ژمنی د غبرګون په هکله، د ډسمبر راهیسې، د افغانستان د حکومت تر رهبرئ لاندې، زیاتو فعالینو، پدې میاشتې کې د ټولنې، د یو شمیر انجوګانو، ولایتي بیا رغوني د ټیمونو په شمول یو شمیر ګډې هڅې په خاص ډول د ژمې د سړې هوا د ځپل شویو کسانو سره د مرستې په موخه ترسره کړې. تر اوسه پورې موږ د ۱۳ ولایتونو څخه په نږدې ۵۰ ولسوالیو کې مرستې هماهنګې کړې دي.

دغه مرستې تر اوسه ندې بشپړې شوي او په یو شمیر ځایونو کې دوام لري او په یو شمیر نورو ځایونو کې به نږدې وخت کې پیل شي. دا چې موږ به راتوکو اونیو کې څه وکړو زه بامیانو او دایکندي ته اشاره کوم چې په مرکزي لوړو کې پراته دي او هم یو شمیر سیمو ته په هرات کې اشاره کوم.

کوم شي چې موږ کوو هغه دا دی چې پر کورنیو باندې سختې ګانې لري کړو په تیره بیا هلته چې د برفکوچونه او یا د واورو د زیات اوریښت خخه ورانې رامنځته شویدی. کورونه نړیدلي، زیات څاروی یې له منځه تللي او یا دا چې نشي خوځیدلی- نو ځکه مارکیټونو ته هم نشي رسیدلي او ټولنیز خدمتونه هم نشي تر لاسه کولای.

د خوراکي توکو ته پام اړوو، زما سازمان لا د مخه ۲۵۰۰ ټنه خوراکي توکي ۳۳۰۰۰ کورنیو ته ویشلي دي. دغه ټول کسان ۲۰۰،۰۰۰ تنو ته رسیږي. اساسي پام یو شمیر لرو ولایتونو ته متوجه دی چې په هغو کې هرات، فاریاب او جوزجان راځي.

زه غواړم یوې بلې موضوع ته هم ګوته ونیسم، او هغه دا چې یو شمیر رسنی دې باندې نیوکه کړې چې د حکومت او د ملګرو ملتونو سازمانونه د ژمي د بد حالت سره ښه مقابله نکوي. دیته باید ګوته ونیوله شي چې د خوراکي توکو په توزیع کې څه کار شوي په تیره ۲۵۰۰ ټنه چې موږ پدې وروستیو کې ویشلي. موږ دغه د

ژمي ځخه لا د خه په لوړو ځايونو کې په ولايتونو کې ځای پر ځای کړي ؤ، کوم چي په ژمی کې ورته لاس رسي په شک کې دی. موږ مخکې له دې چي ژمی پيل شي ۲۲،۰۰۰ ټنه ويشلي و.

د نړيوالي ټولني او د حکومت ګډ ځواب د پيښو پر ضد د رياست لخوا سمون مومي، د خوراکي توکو برسيره يو شمير نور شيان هم د برخه اخيستونکو لخوا برابر شوي دي. د افغاني سرې مياشتي ټولنه، د کليو د پراختيا وزاارت د عامي روغتيا وزارت، آی او ايم، او يو ان ايچ سي آر خيمي، ترپالونه، کمپلي، کورنی جعبي، د پخلنځي جعبي او داسي نور شيان ويشلي دي.

اوس د فبروری منځنی ورځي دي او د سيلابونو وخت لا ندی را رسيدلی خو موږ د تير کال د تجربو ځخه پوهيږو چي کوم موقعيتونه تر زياته حده پوري د دغو سيلابونو د خطر سره مخا مخ دي. دا خبره هم معلومه نده چي دغه خطرونه به ځومره شديد وي.

زيات لاملونه شته او تر ټولو مهم لامل دا دی چي د ژمي واوري په کومه اندازه او سرعت ويلي کيږي. ترځو دې ستونزو ته د تير وخت په پرتله ښه ځواب وويل شي. د افغانستان د پيښو پر ضد رياست او د ملګرو ملتونو سازمانونه په ګډه توګه دې کار ته پلان جوړوي چي په څه ډول دې پيښو ته ښه ځواب وواي.

دغه کار به نه يوازې د مرستو اندازه وټاکي بلکي د فعاليت وخت به هم وټاکي نه دا چي ديته انتظار وباسي چي سيلابونه راشي او دوي بيا کار پيل کړي. ضروري خوراکي توکي او نور شيان لا د مخه ځای پر ځای شوي دي ترځو ضروري ځايونو ته وليږدول شي او په ممکنه تيزی سره.

مننه که کومه پوښتنه او تبصره لرئ، مهرباني وکړئ، طرح يې کړئ. موږ به ورته ځواب ووايو.

## پوښتني او ځوابونه

**بی بی سی:** تاسی مونږ ته په افغانستان کی د سيلابونو (نيزونو) له کبله د ممکنه آسيب مننونکی سيمو په هکله څه وواياست، کومی سيمی د ډير آسيب مننونکی سيمو په ډول مشخص شوی او دوهم دا چي د مرستو د ويشلو لپاره وخت، آيا تاسی داسی فکر نه کوئ چي خلک هم دا اوس مرستو ته اړتيا لري نه د لو د موسم په منځ کي؟

**نړيوال خوراکی پروګرام:** د سيلابونو د سيمو په هکله، زه کولای شم تاسی ته د دغه کنفرانس څخه وروسته معلومات درکړم، کوم چي زموږ په آند د نورو سيمو په پرتله ډيري آسيب مننوونکی سيمی دي. موږ تمه لرو چي پخوانی نمونی ډير او يا لږ به ورته وي. موږ په مشرقی ولايتونو کی دوه او يا دری داسی سيمی وينو، ننګرهار او داسی نور، په همدی ډول بادغيس، د غور ځو سيمی، هرات او په سهيل لويدځ کی ځو نور ولايتونه، او همدارنګه بدخشان چي مونږ په ځانګړي ډول د هغه په هکله انديښنه لرو.

د وخت په هکله، شايد ما په روښانه ډول خپله خبره نه وي ويلی. زمونږ هدف د مرستو ويشل د لو د موسم تر رارسيدو پوري دی. د مرستو ويشل په هيواد کی د خوړو د شتون سره پيل کيږي، چي ما مخکی وويل يو اندازه خواړه رارسيدلی دی. کله چي د لو موسم ورسيد نو موږ به مرستی بند کړو. دا د دوو دلايلو لپاره دي. يو دليل دا دی چي د خوړو اړتيا اوس زيات دي، ځرنګه چي تاسی دا خبره برسيره کړه، خو موږ دا هم نه

غواړو چې افغانی کروندګرو ته نهڅوونکی چاری ړواندي کړو، چې کیداشی داسی و انګیرل شی چې هیواد ته نړیوال خوراکی مرستی راسیږی نو دوي به و نه هڅول شی چې غنم وکری. موږ نه غواړو داسی یو پیغام دوي ته واستو.

**اسوشیتد پرس:** تاسی یادونه وکړه چې د خوړو د بیی زیاتوالی دونیم ملیونه خلک د خوړو د نه مصونیت د یو ستر ګواښ سره مخامخ کړي. آیا نړیوال خوراکی پروګرام د دغی ستونزی د حل لپاره کومه اوږد مهاله پروګرام په ذهن کې لري او که یا د حل لاره یوازې د نورو مرستی ویشل دي؟

**نړیوال خوراکی پروګرام:** دا یوه ډیره ښه پوښتنه ده، او په واقعیت سره دا هغه پوښتنه ده چې حکومت او نور موسسات، لکه زموږ موسسه، ډیر فکر وربانديي کړي. موږ فکر نه کوو چې د خوړو مرسته دوامداره وي، موږ د تیرو څلورو میاشتی په اوږدو کی د یو اوږد مهالی او یا حتی منځ مهاله حل لپاره د پلان په جوړولو کی بوخت یو. موږ په دی کوښښ کې یو چې د راتلونکی لو تر موسم پوري یو ځانګړي زمانی میعاد ته رسیدنه وکړو، کوم وخت چې خلک په ځانګړي ډول د بیو د تبدیل د ژر پیل له امله اغیزمن شوي وي. د اوږد مهاله حل لاره ډیره پیچلی ده او په هیواد کی دننه د خوړو زیات تولید په بر کی نیسی چې دغه هیواد د بهر پر وارداتو لږ خپلواک دي. کیدای شی دغه موضوع داسی نور شیان هم احتوا کړي کوم چې په اوس مهال حکومت پر هغه باندي غور کوي چې د غلو د ستراتیژیکو زیرمو او د غلو دانو د دوره ای رانیلو طرح ده تر څو په دغه هیواد کی د غلو دانو بیی ثابتی وساتی.
ټول شواهد چې تر اوسه موږ لیدلی، دا وړاندیز کوي چې په نړیواله سطحه د غلو دانو د بیو دغه ستر جګوالی به بیرته د تیرو دوو او یا دری کلونو بیو ته ځان ورسوي. بیی به را ټیټي شی خو هسی به نشی کوم چې تاریخ ثبت کړي. اوس افغانی چارواکو ته دا پوښتنه مطرح کیږی چې دوي څنګه کولاي شی دا موضوع ته رسیدنه وکړي چې کوم خلک چې کافی عاید نه لري او نه شی کولای غله رانیسی په داسی حال کې چې غله دانه به هم موجود وي، هغوي سره په څه ډول مرسته تامین کړي. داسی ډیر هیوادونه شته چې د دوي د غلو داخلی تولیدات د هغوي د مصرف څخه ډیر زیات دي، خو د لږ عاید له امله د وګړو یو زیات شمیر دغه غلو دانو ته لاسرسی نه لري.

**آریانا تلویزیون:** تاسی وویل چې د مرستو ویشل به په یوه اوونی او یا لسو روځو کې پیل شی. د ویشلو کیفیت په څه ډول دي، آیا دغه مرستی به د کور پر سر او یا په هر کورنی کی د غړو د شمیر په اندازه وویشل شی؟

**نړیوال خوراکی پروګرام:** په کلیوالی سیمو کی هدف دا دی چې، د حکومت په موافقه سره، مرستی د خوراک د کار په مقابل کی د فعالیتونو پر بنسټ وویشل شي. موږ د هری کاری ورځي لپاره یو معین شوي سهمیه لرو چې د کور مشر ته به وکړ شی او موږ د دغه سهمیه څخه کار اخلو. دغه سهمیه د هری کورنی د خوراکی اړتیا، په منځنی ډول تر ۶ کسانو پوری، پر بنسټ دی. په دي ډول د هر کورنی د ۶ کسانو د ورځنی مصرف خواړه به د کور مشر ته ورکړ شی. په ښاری سیمو کې، موږ تر اوسه د حکومت سره یو ځای کار کوو تر څو

یوه ښه لاره معینه کړو چې اړینو خلکو ته ورسیږو. موږ تمه لرو چې په راتلونکی څو ورځو کې یوه روښانه تصویر تر لاسه کړو.

**ایرین:** د دې ژمی لپاره د تیاریو سربیره په هیواد کې په سلګونو کسان مړه شول. د سیلابونو د موسم سره د غبرګون لپاره آیا تاسو فکر کوئ چې ټولې تیاری د خلکو د ژوند د ژغورلو لپاره ترسره شوي دي؟

**نړیوال خوراکی پروګرام:** په داسې حال کې چې د ځینو پیښو وړاندوینه کیږي خو لا زیاته نا باوري شته. دا هیڅکله ممکنه نه ده څو په دې پوه شو چې دغه پیښې به څومره ناوړه وي، او دا چې سیلابونه به کوم ځای راشي. د دغې بې باوری له امله دا نا ممکنه ده، زما په فکر ټولې منابع د ستونزو د حل لپاره راټولې شي چې د هرې پیښې لپاره ورڅخه کار واخیتسل شي. هغه څه چې دلته غواړم تاسو ته ووایم چې زه د تیر کال د پسرلي د سیلابونو د غبرګون له ټیم سره یو ځای وم او سږ کال هم یم، زه په دې باوری یم چې د سږ کال لپاره په سیستماتیک ډول چمتوالی شته. زه معتقد یم چې د افغانستان حکومت د دې ځواکمنتیا لري چې دا کار پلان او سږ کال د سیلابونو په وړاندې غوره غبرګون د تیر کال په پرتله ولري.

**یوناما:** زه غواړم یو څه زیات کړم، اجازه راکړئ تاسو ته اطمینان درکړم چې دا هغه ستونزه ده چې د افغانستان حکومت او د ملګرو ملتونو موسسې ورباندې په جدي توګه غور کوي. د بده مرغه طبیعي پیښې هغه څه دي چې تاسو یې پر وړاندې هیڅ تضمین نه شئ برابرولای. خو په هر حال دا یوه مساله ده چې د افغانستان حکومت او د ملګرو ملتونو موسسې ورته ډیر په جدي توګه ګوري او پلانونه په ښه توګه ترتیب شوي دي، هر پلان چې اغیزمنوي ورڅخه به کار واخیستل شي.

**د پژواک خبریال:** تاسو کولای شئ موږ ته د هغه تلفاتو په اړه وروستني ارقام چې د ژمي د سړو او د خواړو د نشتوالی له امله منځته راغلي دي، راکړئ، او تاسو په مجموعي ډول د خوراکي توکو ټول ویش څنګه ارزوئ؟ آیا دا بریالی وٍ؟

**د خوارو نړیوال پروګرام:** موږ سره د دغه ډول تلفاتو او زیانونو ریکارډ چې په ټولیز ډول وي نشته، خو موږ د ژمي د سړو له امله د هرې پیښې څیړنه کړې اود ژمي د تلفاتو شمیره کې مو اړونده پیښه راوستې ده. زه وړاندیز کوم چې تاسو دغه پوښتنه د ANDMA له رئیس څخه وکړئ.

**یوناما:** موږ د حکومت له لورې ارقام لرو چې تاسو کولای شئ هغه د حقیقت پاڼې څخه واخلئ. لکه چې ریک وویل دا ستونزمنه ده، خو د هغو تلفاتو تر منځ چې د سړو له امله رامنځته شوي دي او هغوي چې د زوړتوب ناروغیو او یا نورو لاملونو له امله مړه شوي دي، توپیر وکړای شي.

**نړیوال خوراکي پروګرام:** ستاسو د دومي پوښتني او د غبرګون د اغیزمنتوب په اړه باید ووایم، زموږ د ژمي په توافق شوي ویش کې، زموږ هڅې، د تیر کال په پرتله ډیرې ښې او مثبتې وې. موږ تمه لرو چې د ژمي څخه وړاندې به ۲۳،۰۰۰ ټنه خوراکي توکي وویشو. موږ د دې کار ۹۵ سلینه پای ته رسولې ځکه چې موږ

سږ کال ښه چمتوالی درلود او بله دا چې زموږ تمیل کوونکو دا خبره ښه درک کړې وه چې موږ دغو خوراکي توکو ته اړتیا لرو. دغه ډول خوراکي توکو ته په زمي کې اړتیا لیدل کیده خو په ځینو سیمو کې دغو توکو ته د سپټمبر او اکتوبر په میاشاتو کې ضرورت وه. ځکه چې دا وار دغه موضوع ښه درک شوي او تمویل کوونکو هم ښه غبرګون وښود او موږ هم د تیر کال په پرتله ښه لوژستیکي تدبیرونه نیولي وه او په نتیجه کې مو ښه بریالیتوب تر لاسه کړ. موږ په هغو ځایونو کې خوراکي توکي ځای پر ځای کړی چې په آسانی مو وکولای شوای نورو ځایونو ته یې انتقال کړو او دغه کار زموږ سره ډېره مرسته وکړه، زه دا نه وایم چې موږ هغه ټولي مرستي هغو ځایونو ته انتقال کړ چیرته چې یې غوښتنه شوې وه. د سیلابونو په هکله به دا مسله ډیر ستونزمنه وي چې اړتیاوې تعیین کړو او بیا موږ خوراکي توکي داسي ځای پر ځای کړېدي چې د ضرورت په وخت کې به هغه ځای ته ورسیږي چیرته چې یې غوښتنه وشي.

**د آریانا تلویزیون:** په هیواد کې ځیني ولایتونه د نا امنو ولایتونو په حیث پیژندل شوي. تاسو څنګه کولای شئ دغو ولایتونو ته خپلي مرستي وغځوئ؟

**نړیوال خوراکي پروګرام:** په ۲۰۰۷ کال کې مو هم دغه ستونزه درلوده خو موږ وکولای شوای چې د هیواد ټولو ولایتونو ته خپلي مرستي ورسو. موږ ټولنو ته د لاس رسي په موخه د ستونزو سره مخامخ یو نو دا دلیل نشي کیدای چې کواګې موږ دې خپلي مرستي ودرو. موږ کوښښ کو ترڅو داسي نور میکانیزمونه ولټو ترڅو پروژې تطبیق کړي، خوراکي توکي وویشي او همدارنګه د دې پروسي نظارت وکړي چې خوراکي توکي هغو ځایونو ته ورسوي چیرته چې یې ضرورت دی او داسي لارې چارې هم ولټو چې زموږ د کار کوونکو پرته دا نظارت تصدیق کړي.
موږ دا کار په څو ډوله ترسره کړی، د دریمو فعالینو له لارې، د ولایتي ریاستونو، انجوګانو او حتی د خصوصي سکتور په مرسته. زموږ په وړاندې دا اصل موجود دی چې که چیرې موږ نشو کولای هلته ولاړ شو نو موږ باور لرو چې پدې توګه باید موږ مرسته وکړو هغه هم پدې شرط چې د مرستي لپاره اړتیاوې څرګندې شي.

له ټولو څخه مننه